مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباری جهانی

۲۰۲۱/۱۱/۲۴

# غزل

زما د مرحوم دوست ډاکټر قادرسلیمان عطایی روح ته تقدیم دی.

یوه ورځ بـه په محفل کـې، یـاران وي، او زه بـه نـه یـم
د خُم پینو ته به لوېدلـي، مستـان وي، او زه بـه نـه یـم
سره لمبه بـه ګل غـونـډی وي، د سـرو ګلو لـه محشره
پر ښاخـلـو د ارغـوان بـه، ګلان وي، او زه بـه نه یم
پر لمن د پسرلي بـه ځـاځـکي ځـاځـکي صدف اوري
پـر اوربـل بـه دي نـازکـي، بـاران وي، او زه به نه یم
ستا پـه لاره کـې بـه نـه وي زمـا د تـرو پـلونـو نښې
پر سرو شونډو به دي ګراني، پېزوان وي، او زه به نه یم
کله کلـه بـه یـادیـږي زمـا بـوډی کیسـې نیمـګـړي
پـر جـونګړو پـر بېدیا بـه، ځـوانان وي، او زه به نه یم
مـا پـردی مـلا لـیدلی پـه مـحـراب کـې ځـړېـدلـی
پـر مـنبر بـه لـه بلالـه، آذان وي، او زه بـه نـه یـم
ښـار بـه ډک وي لـه زلـمـیو لـه شـملو او له بګړیو
شالمار ته بـه راغلي، طـوطـیان وي، او زه به نـه یم
سره ټـول به شـاعران وي هـم زلمي هم ښکلي نجوني
زمـا به هـم د غـزلونـو، دېـوان وي، او زه به نه یم
جـهـانـی بـه لـه بـهـاره د سیـلـیو لښـکر یـوسي
پر غوټیو به راغلی، خـزان وي، او زه بـه نـه یـم.

د ۲۰۲۱ کال د نومبر دوه ویشتمه ویرجینیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ